## د خوشال کرکه له خټکو

لیکنه : ضیاءالحق سیند

خوشال خان خټک د شهباز خان زوی د یحیی خان لمسی د ملک اکوړي کړوسی ، چې په ۱۰۲۲ س ل کال په اکوړه خټک کې د دې دنیا ته سترګې پرانستې دي ، څنګه چې د نومړي د نوم له روستاړي څخه هم څرګندېږي ،چې په قوم خټک دی او خټک د پښتنو یوه ستره توریالۍ قبیله ده ، خو خوشال خټک ځای ځای په خپل دېوان کې د خټکو له نامۍ سره کرکه ښودلې ده ، ما خپله د خوشال خټک دېوان بیا بیا لوستی دی ، نومړی د ټولو پښتنو نه ګیله من ښکاري خو په ځانګړي ډول د خټکو او یوسفزیو نوم بیا بیا په بدو ټکو را اخلي ، هغه ځکه چې یادو نه د هغه چا کېږي ، چې هغه یو ځوک وي ، خټک له نومړي یو ځای خورا زیات اوسیدل او خورا ځواک خاوندان ول ،خو هغه وخت د لنډي د سیند د غاړې خټک د اکوړه خټک د سرای اوسیدونکي په دوه ډلو وېشل شوي وو ، څه د خوشال تر شا او څه نور هم د مغلو د نوکر د خوشال خټک د زوی بهرام خان تر شا ولاړ وو ، نو خوشال خان د مجبورۍ له امله خټک په بد نوم یادول ، ان تر دې چې د خپل ځان نه یې په دې کرکه په دې راغلې ،چې دی هم خټک دی او په دې اړه وایي:

د خټکــو حقیقت را ته ښــکاره شــو

زړه مې بد له خپله ځانه چې خټک یم

(دېوان، ۵۷۹ مخ)

او بل ځای د خټکو له نوم څخه انکار کوي ، او له ټولو خټکو څخه نا خوښه ښکاري او توبه ګار دی

د خټکو نامې هومره زړه نه خوښ دی

چې تــوبه د همــګي خټک له نامه

(دېوان، ۶۰۳مخ)

د خوشال خان کورنۍ پلار تر پلاره د خټکو خانان او مشران پاتې شوي وو ، خو کله چې خوشال د مغلو خلاف شو ، نو هغه خاني ملکي هر څه تري پاتې شول ، د افغان په نامه یې توره تر ملا کړه او پښتنه مېرانه او ننګ یې مله وو ، خوشال خان په خپل قوم د هیڅ ډول مرستې سپمی نه و کړی ، نو ځکه تري ګیله من ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نعمت په قــدر هيڅ خـــبردار نه دي

نوم ښځک به مې خلاص نه وي له انعامه

(دېوان، ۶۰۳ مخ)

بل ځای بيا نومونږ ی د ښځکو په ليکه کې د پښتنو دوه نوردرانه او ستر قومونه (بنگښ او ورکزي) هم ورگډوي او د دې درې وارو په کورونو يو ځای د ماتمونو غوښتنه کوي.

که ښځک دی که بنگښ که ورکزی دی

وار په وار يې په کــور وشه ماتــمونه

(دېوان، ۵۵۵ مخ)

بل ځای بيا يوسفزي تر سپيوو بدتر گڼي، هغه داسې چې يو ځل ښځک تر سپو بېکاره ښيي او د ښځکو سپي تر يوسفزيو بهتر گڼي، او وايي:

د ښځکـــو سپي بهتـــر تر يوسفـــزيو

که ښځک دی هم په خوی تر سپي بېکاره

(دېوان، ۵۵۵ مخ)

او په اخره کې وايي :

که ښځکو راته شا کـــړه مخ يې تور شه

زه يوازې په تکيه د خدای شيرک يم

(دېوان، ۵۷۹ مخ)

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه : د پښتنو ټول قومونه په ننګ ، پت ، مینه او ښېرازې کې یو له بله کم نه دي او هر یو ځان ځان ته ځانګړی مقام لري ، دا د خوشال خان خټک د خولې خبرې دي ، زما نه دي ، کېدای شي ،چې د نومورې په کمو بدو بد ترې راغلي وي دا د هغه خپل کار دی ، خو زه په خپله ټول قومونه ته په یوه سترګه ګورم، هیله مند یم، چې څوک له ما څخه نا خوښه شوي نه وي.

په درنښت

ستاسو ورور : ضیاءالحق سیند

پته: بغلان ولایت ، پلخمري ولسوالۍ د ډنډ غوري زرغونه سیمه

۱۳/ ۱۱/ ۱۳۹۴

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**